# الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللَّهِ، وَالحُلُمُ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِذَا حَلَمَ أَحَدُكُمْ حُلُمًا يَخَافُهُ فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ، وَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّهَا، فَإِنَّهَا لاَ تَضُرُّهُ». "ښه خوب لیدل د الله له طرفه دي او بد خوب د شیطان له طرفه، نو كه ستاسو څخه یو څوک داسې خوب ووینې چې ترې ډاریږي، خپل كیڼ اړخ ته دې لاړې تو كړي، او د هغه خوب له شر څخه دې په الله پناه وغواړي، نو هغه ته به زیان نه رسوي

له أبو قتادة رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمايلي: «الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللَّهِ، وَالحُلُمُ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِذَا حَلَمَ أَحَدُكُمْ حُلُمًا يَخَافُهُ فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ، وَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّهَا، فَإِنَّهَا لاَ تَضُرُّهُ». "ښه خوب لیدل د الله له طرفه دي او بد خوب د شیطان له طرفه، نو كه ستاسو څخه یو څوک داسې خوب ووینې چې ترې ډاریږي، خپل كیڼ اړخ ته دې لاړې تو كړي، او د هغه خوب له شر څخه دې په الله پناه وغواړي، نو هغه ته به زیان نه رسوي".

[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله علیه وسلم خبر وركوي چې نېک او خوشحالوونكى خوب د الله له طرفه وي، او بد خوب؛ یعنې داسې څه په خوب كې لېدل چې كركه ترې كوي او خفه كوي يې، هغه د شيطان له طرفه وي. نو كه چا داسې بو څه ولیدل چې كركه يې ترې درلوده، خپل چپ اړخ ته دې لاړې تو كړي او له شر څخه دې په الله پناه وغواړي؛ (كه يې داسې وكړل) زيان به ورته ونه لري، ځكه چې الله تعالى يې له شر څخه د سلامتيا سبب ذكر كړی دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3586